امارت اســـلامی افغانستان
معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

Islamic Emirate of Afghanistan
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء

## د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د دویمې غونډې مصوبه

محرم ۱۴۴۴

د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۴ هـ.ق کال دویمه غونډه، چهارشنبه د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د محرم ۱۹ مه (د ۱۴۰۱ هـ.ش کال د زمري ۲۶مه) د ماسپښین پر(۲:۰۰) بجو په مرمرینه ماڼۍ کې د قرآن عظیم‌الشان مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او اقتصادي کمېسیون د رئیس الحاج ملا عبدالغني برادر آخند په مشرۍ دوام وکړ. په غونډه کې د ا.ا.ا د ریاست الوزراء اداري مرستیال او د اداري کمېسیون رئیس ملا عبدالسلام حنفي هم ګډون لاره.

**په غونډه کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، لاندې پرېکړې وشوې:**

| شمیره | پرېکړې | تطبیق کوونکی | وخت |
|---|---|---|---|
| **لومړۍ موضوع:** د سرپل والي د ا.ا.ا مشرتابه عالي مقام ته یو شمېر وړاندیزونه کړي دي. د مشرتابه عالي مقام د دغو وړاندیزونو په اړه د اقتصادي کمېسیون نظر غوښتی دی. | | | |
| ۱ | - د اوبو او انرژۍ وزارت دې له ملي پراختیا شرکت سره په ګډه، د سرپل د سلطان ابراهیم او شورابې برېښنا بندونو د سروې او ډیزاین په ګډون ټولې مقدماتي چارې بشپړې کړي، د دغو بندونو د جوړولو ټول لګښت دې معلوم کړي او بیا دې اقتصادي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي چې د بندونو د جوړولو د تمویل لپاره یوه مناسبه لاره وموندل شي.<br>- د ټولګټو چارو وزارت دې له ښار جوړولو چارو وزارت سره په ګډه، د سرپل مرکز حلقوي سړک د سروې او ډیزاین په ګډون ټولې چارې بشپړې کړي او اقتصادي کمېسیون ته دې رپوټ وړاندې کړي.<br>- د کانونو او پټرولیم وزارت دې د قشقري نفتو کان له قراردادي چینایي شرکت سره د سرپل د مرکز حلقوي سړک د جوړېدا په اړه خبرې وکړي او خپل رپوټ دې له اقتصادي کمېسیون سره شریک کړي.<br>- د نفتو او ډبرو سکرو د عوایدو محصول دې د پخوا په څېر په مرکز کابل کې د دولت حساب ته جمع شي.<br>- د سرپل په صیاد ولسوالۍ کې د درې بند د بیارغونې لپاره له ۳ تر ۴ ملیونو افغانیو پورې اټکل شوې بودجه تایید ده. د مالیې وزارت دې یاده بودجه برابره کړي او د اوبو او انرژۍ وزارت دې د بند د بیا رغونې چارې ژر پیل کړي. | د اوبو او انرژۍ وزارت، مالیې وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت، د ټولګټو چارو وزارت، د ښار جوړولو وزارت، ملي پراختیا شرکت | عاجل |

**د افغانستان اسلامي امارت**
**د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت**

**امارت اســـلامی افغانستان**
**معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء**

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **دویمه موضوع:** د مالیې وزارت غوښتنه کړې ده چې د حج او اوقافو وزارت یو اعشاریه نهه ملیارده افغانی اوقافي عواید او همدارنګه د تېرو کلونو د حج له مراسمو څخه سپما شوې پیسې دې د بیت المال واحد حساب ته ولېږدول شي. | | | |
| ۲ | د چارو ادارې لوی ریاست د سرپرست محترم شیخ نورالحق انور په مشرۍ دې د حج او اوقافو او مالیې وزارتونو پلاوی د حج او اوقافو له وزارت څخه د بیت المال واحد حساب ته د یو اعشاریه نهه ملیارده افغانیو اوقافي عوایدو او د حج له مراسمو د سپما شویو پیسو او نورو عوایدو د لېږد په اړه تفاهم وکړي او د دغه تفاهم پایله دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | د چارو ادارې لوی ریاست، د حج او اوقافو وزارت، مالیې وزارت | عاجل |
| **دریمه موضوع:** د خصوصي بانکونو د کمزورتیا د مخنیوي لارې چارې او د افغاني بانک نوټونو د کمښت ستونزه. کابینې دواړه موضوعات اقتصادي کمېسیون ته راجع کړي دي چې مطرح شي، یوه پایله ترې تر لاسه شي او بیا یې پر بنسټ لازم تصمیم ونیول شي. | | | |
| ۳ | - د افغانستان د دولتي او خصوصي بانکونو د پورونو د اړوندو قضایاوو د ژر فیصله کولو په موخه دې د ا.ا.ا ستره محکمه یوه ځانګړې محکمه (اختصاصي محکمه) جوړه کړي.<br>- د افغانستان محاکم دې د جایدادونو او ملکیتونو د شرعي قبالو اجراء کول پیل کړي.<br>- د افغانستان بانک دې د اسلامي قرضو د اجراآتو جوړ کړی میکانیزم اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.<br>- تر هغو چې د اسلامي بانکدارۍ ټول اړوند اسناد د علومو اکاډمۍ په مشرۍ بشپړ کېږي، د افغانستان ټول دولتي او خصوصي بانکونه دې د اسلامي قرضو (مضاربه، مرابحه، سلم او نور) د ورکړې پروسه د افغانستان بانک د شرعیه بورد له اجازې وروسته د اسلامي شریعت په رڼا کې پیل کړي.<br>- د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزارت دې د افغاني بانکونو له خوا په ګاونډیو او د سیمې په نورو هېوادونو کې د بانکي حسابونو د پرانیستلو په اړه کار او هلې ځلې وکړي.<br>- د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزارت دې له مرستندویو هېوادونو او بنسټونو سره تفاهم وکړي چې مرسته کېدونکې پیسې دې نه یوازې یو ځانګړي بانک ته؛ بلکې د یو منظم میکانیزم په رڼا کې د افغانستان نورو خصوصي بانکونو ته هم راشي، چې په دې توګه د افغانستان له خصوصي بانکونو سره په چلند کې عدالت رامنځته شي.<br>- د دولتي تضمینونو، تعرفو او د دولتي کارمندانو د معاش په اجراء کې دې د خصوصي بانکونو ونډه ډېره شي. د مالیې وزرات او د افغانستان بانک دې د خصوصي بانکونو تر منځ د دولتي ادارو د کارمندانو د حسابونو په وېش او په تدریج سره د بانکونو له لارې د | د مالیې وزارت، د ښارجوړولو چارو وزارت د ټولګټو چارو وزارت، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د ملي پراختیا شرکت، دولتي شرکتونه، د افغانستان بانک، دولتي او خصوصي بانکونه، د افغانستان د بانکونو ټولنه(د اړتیا په صورت کې)، کابل ښاروالي او د افغانستان ښاروالیو عمومي ریاست او د افغانستان نورې ادارې | عاجل |



د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Islamic Emirate of Afghanistan
Economic Commission Secretariat

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ټولو انتقالاتو په تر سره کولو کې اړین اجراآت وکړي. ټولې ملکي او نظامي ادارې دې په دې برخه کې له مالیې وزارت او د افغانستان بانک سره همکاري وکړي.<br>- د افغانستان بانک دې د وړو پورونو د ورکړې بانک او نورو ټولو هغو مالي بنسټونو چې د اسلامي شریعت په رڼا کې د فعالیت د پیل لپاره یې ټول اړین اقدامات تر سره کړي دي، د اداري کارونو د نهایي کولو بهیر ته سرعت ورکړي.<br>- د افغانستان بانک دې د مالیې وزارت په مرسته خصوصي بانکونو ته ودیعه ورکړي.<br>- د افغانستان دولتي او خصوصي بانکونه او نورې اړوندې ادارې دې په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ د ترویج په موخه د اسلامي هېوادونو له تجربو څخه ګټه پورته کړي.<br>- د مالیې وزارت دې ټولې هغه سترې زېربنایي پروژې چې د کارونو ډېره برخه یې تر سره شوې ده او د بشپړېدا لپاره یې لږې بودجې ته اړتیا ده، تشخیص کړي او په دې اړه دې اقتصادي کمېسیون ته رپوټ وړاندې کړي.<br>- د مالیې وزارت په مشرۍ دې د بانکونو د صعب الحصولو پورونو د تر لاسه کولو کمېسیون بېرته فعال شي او له دولتي او خصوصي بانکونو د صعب الحصولو پورونو په ترلاسه کولو کې دې اړین اقدامات وکړي.<br>- په افغانستان کې دې د ټولو هغو ساختماني پروژو د چارو پیل ته اجازه ورکړل شي چې د کار د پیل پر وړاندې یې کوم قانوني او شرعي خنډ شتون و نه لري. | | |
| **څلورمه موضوع:** له ایران سره پر اقتصادي موضوعاتو بحث او د یو مسلکي پلاوي ټاکل | | | |
| ۴ | د ا.ا.ا د اقتصاد وزارت په مشرۍ د مالیې، صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټرولیم، اوبو او انرژۍ، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه او د اوسپنې پټلۍ ادارې د لوړ رتبه چارواکو یو هیئت دې د ایران له اسلامي جمهوریت سره د بریښنا، کانونو، نفتي توکو، ګاز او صنعت سکټورونو په برخه کې کار وکړي او د خپلو اجراآتو رپوټ دې وخت په وخت اقتصادي معاونیت ته وړاندې کړي. | د مالیې، صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټرولیم، اوبو او انرژۍ، اقتصاد، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه او د اوسپنې پټلۍ اداره | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزرا اقتصادي معاونیت
د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء
Economic Commission Secretariat
Islamic Emirate of Afghanistan

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

امارت اســـلامی افغانستان
معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء

Islamic Emirate of Afghanistan

## د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| **پنځمه موضوع:** له داغمه جاتو د اغبزمنې ګټې اخیستو په اړه د ملي پراختیا شرکت طرحه | | | |
| ۵ | د ملي پراختیا شرکت دې له داغمه جاتو د اغبزمنې ګټې اخیستو طرحه د مالیې وزارت له اړوندې څانګې سره شریکه کړي او بیا دې دواړه لوري د تفاهم پایله اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. | د مالیې وزارت او ملي پراختیا شرکت | عاجل |
| **شپږمه موضوع:** د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اداري کمېسیون پېښنو ته د رسېدا په چارو کې د دولت وزارت لپاره په بالمقطع ډول د سلو کارمندانو استخدام منظور کړی دی. دغه وزارت د سلو بالمقطع کارمندانو لپاره په ۱۴۰۱ مالي کال کې د څانګړې بودجې غوښتنه کړې ده. | | | |
| ۶ | پېښنو ته د رسېدا په چارو کې د دولت وزارت د سلو بالمقطع کارمندانو لپاره د بودجې څانګړي کول تایید دي. دغه وزارت دې له مالیې وزارت سره په دې اړه تفاهم وکړي. | د مالیې وزارت او پېښنو ته د رسېدا په چارو کې د دولت وزارت | عاجل |
| **اوومه موضوع:** د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د عینک مسو کان په سیمه کې د تاریخي آثارو د ساتنې او لېږد په اړه خپل رپوټ د ریاست الوزراء عالي مقام ته استولی دی. د ریاست الوزراء عالي مقام دا رپوټ اقتصادي کمېسیون ته رالېږلی دی چې وڅېړل شي او پایله یې کابینې ته وړاندې شي. | | | |
| ۷ | د عینک مسو کان په سیمه کې د تاریخي آثارو د ساتنې او لېږد په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت طرحه دې د اقتصادي کمېسیون له غړیو سره شریکه شي او د اقتصادي کمېسیون غړي او په ځانګړي ډول د کانونو او پترولیم وزارت دې د دغې طرحې په اړه خپل نظریات د کمېسیون راتلونکې غونډې ته راوړي چې په رڼا کې یې اړین تصامیم ونیول شي. | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د اقتصادي کمېسیون غړي | عاجل |
| **اتمه موضوع:** د تاپي پروژې په اړه د کانونو او پترولیم وزارت د اړوند ریاست رپوټ او د دغې پروژې د مشرتابه پلاوي ته د افغانستان د باصلاحیته استازي معرفي کول. | | | |
| ۸ | - د تاپي پروژې په اړه د کانونو او پترولیم وزارت رپوټ تایید دی.<br>- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت دې د پروژې د استملاک په اړه له کانونو او پترولیم وزارت سره په همغږۍ کې عاجل اقدامات تر سره کړي.<br>- په سیاسي کچه به د تاپي پروژې د مشرتابه په کمېټه (Steering Committee) کې د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د اقتصادي کمېسیون رئیس الحاج ملا عبدالغني برادر آخند د افغانستان استازولي کوي.<br>- د تاپي پروژې د (TPCL) په چوکاټ کې د رئیسانو بورډ (Board of Directors) ته د افغانستان په استازولۍ د کانونو او پترولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور معرفي شو. | د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د کانونو او پترولیم وزارت، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | عاجل |

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

امارت اســـلامی افغانستان
معاونيت اقتصادی رياست الوزراء

Islamic Emirate of Afghanistan

د اقتصادي کمېسيون دارالانشاء

| نهمه موضوع: د بې اسنادو موټرو د ګمرکي محصول کړنلاره | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | د بې اسنادو موټرو د ګمرکي محصول کړنلاره تایید ده. | د مالیې وزارت | عاجل |

الحاج ملا عبدالغني برادر آخند

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

او د اقتصادي کمېسيون رئيس

۱۱/۷/۲